بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمَنِ الرَّحِيمِ
د مولانا سعید افغاني د سولې او تفاهم،نشراتي ارګان
www.said-afghani.org
آزاده، ټولنیزه ،علمي ، فرهنګي و نشراتي ارګان



Dr.Said Afghani

د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



فريد احمد « تسكين » ـ پکتيا
د نشر نېټه : ۱۰ اپریل ۲۰۱۳ میلادی

# بې وزلو يتيمانوسره نږدې څلور سوه زره افغانی مرسته وشوه!





هغه غونډه چې نن د پکتيا کور د غونډو په تالار کې په همدې اړوند رابلل شوې وه پکې لسګونو بې وزلو يتيمانو،د پکتيا ولايتي شورا استازو او دمدني ټولنو استازو ګډون کړی و.
په افغانستان د مسلم هينډ مرستندويه خيريه موسسې د يتيمانو سره د مرستې کوولو څانګې مسوولين وايي دغه نقدي مرسته نږدې څلور سوه زره افغانی چې هر يو بې وزله يتيم ته به دمياشتې اته لس سوه افغانی ورکول کيږي وويشل شوې.
د افغانستان په کچه د دغې اداري د يتيمانو د څانګې مسوول محمد يوسف راتب رسنيو ته وويل:(( دغه نقدي مرسته چې يو اويا تنو بې وزلو يتيمانو ته به ورکول شي دوئ ته د هرې مياشتې لپاره اته لس سوه افغانی ځانګړې شوې دي ،چې د هرو دريو مياشتو وروسته پرې ويشل کيږي.))نوموړی وايي دغه بې وزله يتيمان چې د مرکز ګرديز او زرمت ولسوالی اوسيدونکي دي په هرو دريو مياشتو له بابته پرهر يو بې وزله يتيم پنځه زره څلور سوه افغانی وويشل شوې .

هره ليکنه د ليکوال خپل نظر دی او خپله دليکوال اند څرګندوی
استفاده از مطالب سایت « ارګان نشراتی صلح و تفاهم مولانا سعید افغانی » با ذکر مأخذ آن آزاد است

د راتب په وينا دغه اداره چې په کابل،پکتيا او ننګرهار ولايتونو کې خپل فعاليتونه کوي په فرانسې،جنوبي افريقا او انګلستان هيوادونو کې د ميشتو مسلمانانو لخوا يې مالي مرسته کيږي .
راتب وايي راتلونکي کې پلان لري چې د بې وزلو يتيمانو لپاره د دوی د روغتيا لپاره هم اهم او اړين ګامونه واخلي او همدا ډول د دوی دپوهې د کچې د لوړولو په موخه د انګلستان د اکسفورډ پوهنتون د درسي ميتود پر اساس هم خپل فعاليتونه زيات کړي.
ازاد خبريال او د پکتيا د ژورناليستانو د خپلواکې ټولنې مشر نياز الله اصيل ځاځی وايي پکتيا چې يو غريب ولايت دی په تيرو څو لسيزو کې د جنګ او جګړې ښکار شوی پکې زيات شميرخلک وژل شوي او له دې زيات شميرکونډې او يتيمان شوي دي.
نوموړی د مسلم هينډ مرستندويه موسسې دغه د خير کار د ستايلو بولي او وايي که دا لړی دوام وومومي هيله لري چې د دغه ولايت د خلکو پرتې ستونزې به د حل لاره پيدا کړي.
د پکتيا د ولايتي شورا مرستيال ډاکتر الله ميرځاځی د دغه کار د ستايلو ترڅنګ وايي:(( که دا لړی د پکتيا نورو ولسواليو ته وغځول شي او د ورته مرستو ترڅنګ د دغه ولايت وګړو ته د روغتيا او پوهنې په برخه کې نور کارونه او مرستې هم وکړي دابه د دې ولايت د خلکو دستونزو په کموالي کې رغنده رول ولوبوي.))
ډاکتر الله ميرځاځی له نړيوالې ټولنې او افغان سوداګروغواړي چې د دغه ولايت په رغولو او همدا ډول د ياد ولايت د خلکو د ستونزو دحل په موخه خپلې هر ډول مالي اوځاني مرستې ونه سپموي.
مدني فعال او د پکتيا کور مشرمحمد رفيع هميم ورته غوښتنې لري او وايي که دا ډول کارونه د دغه ولايت د خلکو او مدني ټولنو له استازو سره په ګډه پرمخ يوسي بريالی پايلې به ورکړي.
دغه مدني فعال پر نړيوالي ټولنې، افغان سوداګرو او افغان حکومت غږ کوي چې د دغه ولايت ستونزو ته لومړيتوبونه ورکړي.
دی وايي پکتيا اوس امن لرونکی ولايت دی هره هغه موسسه ،ادارې او سوداګرچې غواړي پکتيا کې خپلې پانګونې وکړي او خلکوته خپل خدمتونه ورسوي په ډاډه زړه کولای شي خپلو کارونو ته چټکتيا ورکړي.
د يادولو دی پکتيا کور هغه بنسټ دی چې د مدني او ژورناليستيکي کړنو ترڅنګ د خيريه مرستندويه ادارو سره په ګډه د بشري مرستو او نورو خيريه کارونو د پرمخ بيولو لپاره هم خپل فعاليتونه او همکاری کوي.

فريد احمد « تسکين » ـ پکتيا

---

بازګشت به صفحه اصلی ـ www.said-afghani.org